Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

# د اجمل خټک په شاعرۍ کښې ترقي پسندۍ ته یوه کتنه


- **Muhammad Sajid**[1]
- **Sardar Hussain**[2]
- **Dr. Mazhar Ahmad**[3]



**Abstract:**

*Ajmal Khattak was born on September 15, 1925 in Akora Khattak. He was a follower of Bacha Khan and an active leader of the Awami National Party. As a poet and writer, Ajmal Khattak was inspired by the progressive movement. Ajmal Khattak broke the tradition of Pashto poetry for hundreds of years and added class, revolutionary and resistance colors to it. He became very famous as a progressive poet. This article examines his poetry as a progressive poet.*


الله پاک د دې ويړې نړۍ په هره خاوره او په هر قوم کښې داسې بې شمېره نابغه شخصيتونه هم زېږولي دي چې که هغوي يو اړخ ته د سياست په مېدان کښې ځانونه په خلقو منلي دي او د خپل تحرير ، تقرير او رسا فکر په زور ئې د قم ببړۍ د ډوبېدو نه بچ ساتلې دي ۔ نو بل اړخ ته ئې د ادب د ناوې هم ښه ځنځ سترګه کړې ده او تل عمر ئې ژوند موندلے دے۔ د نړۍ په داسې نابغه شخصيتونو کښې يو د پښتنې خاورې ملنګ او په پښتو ژبه او ادب له سره تېر اجمل خټک بابا هم دے ۔

د اجمل خټک باب د ژوند کار او زيار په حقله بلها پوهانو ډېر څۀ وئيلي او ليکلي دي ښاغلے همېش خليل په خپل کتاب " پښتانۀ ليکوال " کښې د اجمل خټک د ژوند په حقله ليکي چې :اجمل خټک د خان علين خوشحال خان خټک په قوم او کلي (اکوړي) کښې په کال ۱۹۲۶ ء کښې پېدا شوے ؤ او لوے شوے ؤ ۔ د پلار نوم ئې حکمت خان ؤ ۔ تر مېډل پورې تعليم ئې خپل کلي کښې حاصل کړے ؤ او بيا ئې د منشي فاضل او اديب فاضل امتحانونه پرائوېټ پاس کړل"[1]

د اجمل خټک د فن په حقله ډاکټر حنيف خليل په خپل کتاب " آئېنې " کښې ليکي چې :

"اجمل خټک د پښتو او اردو ژبې يو ځيرک ليکونکے دے چې په تخليق ، تحقيق او تنقيد دريو واړو مېدانون کښې ئې زيار کړے دے او ورسره د صحافتي او سياستي مېدان يو وېخ او

---

[1] MPhil Research Scholar at Department of Pashto University of Malakand.
[2] PhD Research Scholar at Department of Pashto University of Malakand.
[3] Assistant professor, Department of Pashto University of Malakand.

Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

باشعوره لیکوال دے ۔ اجمل خټک د ادب په هر اړخ طبع ازمائي کړې ده ۔ خو شاعري ئې ځانګړې ده ۔"[2]

اجمل خټک بابا د شاعرۍ په بېلا بېلو صنفونو او رنګ رنګ موضوعاتو لیکل کړي دي او هر رنګ ئې لکه د قوس قرح د رنګونو په شان یو بل نه ښکلے دے ولې زمونږه د موضوع تعلق د اجمل خټک بابا د ترقي پسنده شاعرۍ سره دے ځکه به زۀ خپله د مقالې لمن د موضوع تر حده ساتم ۔

لکه څنګه چې الله پاک په دې نړۍ کښې یو څیز هم بې کاره نۀ دے پیدا کړے او د هر څیز د پیدا کېدو څه مقصد وي هم دغه شان د ترقي پسنده لیکوال منشاء او مقصد دا وۀ او دے چې ادب دې د محبوب د زلفو ، خط وخال ، حسن او مبالغه ارائي په ځاے د معروضي حقایقو د ښودنې د مزدور طبقې د حق دپاره غږ پورته کولو او د ظالم جابر د لاس نیوې او مخ نیوې دپاره پکار راوستې شي ۔ ډاکټر حنیف خلیل په خپل کتاب " ائینې کښې لیکي چې :"مغربي ادبي تحریکونو خپل اثرات د اردو په لاره پښتو ته نقل کړي دي "[3]

په اردوادب کښې که یو اړخ ته اختر حسېن راے پوري" فیض احمد فیض، سجاد ظهیر ملي سرور جعفري، احمد ندیم قاسمي، حبیب جالب او جوش ملیح ابادي غوندې لیکوالو نومونه د یاد وړ دي نو بل طرف ته په پښتو لیکونکو کښې د صنوبر حسېن کاکا جي ، ایوب صابر ، قلندر مومند ، ولي محمد طوفان ، سیف الرحمان سلیم ، همېش خلیل او فضل حق شېدا غوندې لیکوالو هم ترقي پسندۍ ته پام شو ۔

پښتونخوا کښې د ترقي پسند تحریک د اثر په حقله اجمل خټک بابا د ډاکټر حنیف خلیل مرکو کتاب " مخ په مخ" کښې لیکي چې :

> " د ترقي پسند ادب په نوم چې کوم تحریک متحده هندوستان کښې شروع شوے وو هغه د هغه وخت یو ډېر بنیادي ضرورت وو د هدوستان د تقسیم نه پس مغربي پاکستان کښې هغه تحریک هغه شان پاتې نۀ شو بلکې سیاست په نیشت حساب وو صرف پښتو کښې سیاست وو په دې ملک کښې ژوند او سیاست څۀ عجیبه غوندې روان شو هر څۀ د ملک تاریخي ، جغرافیائې ، ثقافتي او روایتي تنباضو مطالعه روان نۀ وو بلکې بل خوا روان شو چونکې دغه تحریک زیات اثرات د سیاست نه اخیستي وو ځکه ترقي پسند تحریک هم د دغه مرض ښکار شو او د ترقي پسند تحریک په نوم لکه چې د ټولو قومونو ژبو او ثقافتونو د خدمت لپاره ئې ملا تړلې وه ۔ د هغۀ په ځاے ادب هم د حکمرانانو د مصلحتونو نه قربان شو ۔"[4]

Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

ترقي پسندي د ادب يوه همه ګيره موضوع ده، په هر يو صنف کښې ليکوالانو دغه رجحاناتو راوړي دي . ډاکټر حنيف خليل د ترقي پسندۍ په حقله ليکي:

"تر څو چې زما د موضوع په اړه د وړومبۍ خبرې تعلق دے چې د ترقي پسندۍ تحريک د کله نه او په څۀ شکل په پښتونخوا کښې وده موندلې ده۔ دې لړ کښې دا خبره جوتول غواړم چې چې هسې خو د انجمن ترقي پسند مصنفين قيام په متحده هندوستان کښې په کال ۳۶-۱۹۳۵ء کښې عمل کښې راغلے دے خو دا په اصل کښې د يو تنظيم وجود کښې راتلل دي۔ د تحريک نه۔ د ترقي پسندۍ تحريک د دغه تنظيم د قيام نه مخکښې هم موجود وۀ۔ په تنظيم او تحريک کښې فرق دے۔ سر د دې چې په تحريک او تنظيم دواړو کښې د يو مخصوص مقصد د حصول دپاره په مشترکه توګه عملي هڅې کولے شي خو د دواړو فرق د تنظيم او تحريک په نومونو او اصطلاحاتو کښې په خپله زمونږ مخې ته راځي۔ د تنظيم په شکل کښې عملي هڅې په منظکه توګه د يو باقاعده پروګرام، قانون۔ ضابطې او منشور مخصوصو کسانو ته سپارلے شي خو تحريک دپاره نۀ خو د کوم خاص منمشور ضرورت شته او نۀ د عهد تاکلو ۔ د تحريک مفهوم په حرکت او جدوجهد کښې دے۔ سره د دې چې دغه جدوجهد هم په يو خاص ترتيب او طريقې سره کولے شي۔ خو تحريک د زمان او مکان يا وخت او جغرافيائې د قېد نه ازاد وي۔ په يو دور کښې که ځينو کسانو په مجموعي توګه د کوم خاص مقصد دپاره په خپل، سمي، عملي مبارزې کړې وي نو ډېره موده پس او په يوه بله سيمه کښې هم د دغه قسمه مقصد ترلاسه کولو دپاره بلکې د هم دګۀ متعين مقصد دپاره هلې ځلې کېدے شي چې د هم دغه تحريک برخه ګڼلے شي۔ د مثال په توګه روښاني تحريک کښې نۀ خو د چا سره عهده وه او نۀ ئې کوم متعين منشور وۀ خو ولې بيا هم پير روښان د وفات نه پس هم دغه تحريک جاري پاتې شو ۔ تر دې چې نن هم د پير روښان د تحريک او نظرئې مرستيال شته۔ هم دغه مثال د نورو تحريکونو هم دے نو ځکه دا خبره بايد جوته وي چې په کال ۳۶-۱۹۳۵ء کښې د انجمن ترقي پسند تحريک موجود وۀ خو د تنظيم شکل ورته په کال ۳۶-۱۹۳۵ء کښې ورکړے شو او دا هم جوته ده چې د انجمن ترقي پسند مصنفين تنظيم اوس ختم شوے دے خو د ترقي پسندۍ تحريک نن هم موجود دے"[5]

ISSN Online: 2709-7625

ISSN Print: 2709-7615

په پښتو ادب کښې داسې ډېر ليکوالان تېر شوي دي چې هغوي د ترقي پسندۍ پلويان ليدے شي، په دغه ليکوالانو کښې د ښاغلي اجمل خټک نوم هم شامل دے ۔ د اجمل خټک بابا د ترقي پسند تحريک سره د تړون ذکر د پروفېسر حمد افضل رضا په کتاب " ښاغلے اجمل او پښتو غزل " کښې داسې په ډاګه دے چې :

" د فارغ بخاري او رضا همداني په ملګرتيا کښې زما د ترقي پسندو مصنيفينو سره رابطه جوړه شوه هلته نه به ماته باقاعده لټرېچر راتلو، چې په مطالعه ئې زما شاعري د هاشري ، تضاداتو او محرومو طبقاتو مظلوميت ته متوجه شوه ما د پښتو په روايتي شاعرۍ او پښتون د قوم ازادۍ په شاعرۍ کښې ترقي پسنده رجحانات شامل کړۀ ۔"[6]

د ترقي پسند فکر په حقله اجمل خټک په پښتو ادب کښې تر لرې لرې پېژندګلو لري ۔ هم د دغه اړخ تشهير ئې د پښتو ژبې ستر ليکوال ډاکټر حنيف خليل په خپل کتاب " آئينې " کښې داسې کوي چې:

"د ښاغلي اجمل خټک دغه طبقاتي لري بري نقشه خودل په حقيقت کښې د انسانيت صحيح مقام خودل دي ۔"[7]

ښاغلے اجمل خټک چې کله خپل دفکر نيلے د ترقي پسندۍ په ورشوګانو کښې ورګډ کړو نو د ډېرو پوهانو ، نقادانو او ليکوالو توجو ئې ځان پله راواړوله۔

ښاغلے اجمل خټک د خپلې ترقي پسندي شاعرۍ زياته برخه په خپل کتاب " د غېرت چغه " کښې خوندي او زخيره کړه ۔ او دغه د غېرت چغه تر لرې لرې هېوادونو اورسېده او د ډېرو ښکرورو زوررو او غاورو د غوږونو پردې ئې خيرې کړې۔ اجمل بابا په دغه حقله خپل کتاب د " غېرت چغه " کښې ليکي :

د ژوبل احساس يو څو څړيکې ، د زخمي غېرت يو څو غورځنګونه ، د سړې وينې يو څو تړم تړم څاڅکي ، څو ترخې تجزئې ، د سرمائې يو څو ناکړدې ، د غاورو اقتدار يو څو رندې لټې او ورسره د پښتونولۍ احساس چې زما شاعر زړۀ د پښتني فن په سور رباب اوترنګولو نو زۀ پوهه شوم چۀ خوږې سندرې ترې جوړې شوې که سوې ساندې ؟ ولې دومره پوهه شوم چې د زرو اورو د سپينو قبرونو ، ځربو منجورانو واوربدل نو تندې ئې تراوۀ کړل او چې د غريب اولس او باشعوره طبقې تر غوږه شول نو په سوي زړۀ لکه د دسمالي اولګېدل۔[8]

اوس د اجمل بابا ترقي پسنده فکرونو ځلا ته شاعرۍ په ايينه کښې ځبر کېږو ۔ اجمل خټک په پښتنه معاشره کښې طبقاتي کشمکش ډېر په خوند خوند غندلې دے ۔ د يو نظم دا شعرونه ئې څومره خوندوردي۔

نېکـــــان نېکـــــان غتهـــــان غتهـــــان پېـــــدا دي
دوي خـــــو د مـــــوره جنتيـــــان پېـــــدا دي
ځـــــئ هغـــــه خـــــوارو تـــــه جنـــــت اوګټـــــو
څـــــوک چـــــې د مـــــوره دوزخيـــــان پېـــــدا دي[9]

په پښتنه معاشره کښې د طبقاتي کشمکش په باره کښې د اجمل بابا د شعر په حقله درمان علي خېل په خپل کتاب " روښانه ستوري " کښې ليکي چې:

" په پښتنه معاشره کښې د طبقاتي کشمکش په ضد هم دوي د خپل تېز قلم نه کار اخستے دے ۔ د انجمن ترقي پسند مصنيفين په سترو ګړو کښې د دغې مکتب له خوا د هلو ځلو روح روزن پاتي شوے دے او د ملک د لويو طرقي پسند شاعرانو په قطار کښې د اهميت لوړ مقام لري۔ [10]"

اجمل بابا په خپل يو نظر " ګوجر " کښې په طبقاتي نظام دا طنز تېرۀ غشي ورولي دي:

ګوجر

مېښـــــې منميـــــه د نـــــواب صـــــاحب دي
دې کښـــــې خبـــــره کـــــول د چـــــا تـــــاوان دے
ولـــــې اے اے د انســـــانانو ربـــــه
دغـــــه ګـــــوجر غريـــــب انســـــان د چـــــا دے[11]

او هم د دغه نظم دا بند هم اوګورئ:

"د دۀ د خـــــوار بدنـــــه تولـــــه وينـــــه
دې مېخـــــو وچـــــه کـــــړه ســـــحر او ماښـــــام
د هغـــــو ډکـــــه غـــــولانځ ډک تيونـــــه
د د پـــــه شـــــونډو تـــــرې يـــــو څـــــاڅکے حـــــرام[12]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615
Vol. 6 No.3 2023

او د دغه نظم دا بند هم د کتو دے:

د نواب مېخه دې نوابه ګرځي
د خدائے نواب دے خدمت ګار دے ورته
هغه پرسېږي دي د دهٔ په وازدو
دې دي خدمت کښې خوار وزار دته ورته[13]

او د دغه نظم "ګوجر" اخيري بند ته ځير کېږو:

ستا د خدايئ د تقاضو په خاطر
انسانيت باندې سوګن کومه
که دا دا خدائي دې اپوته شي راته
زه د انسان په شانتې ژوند کومه[14]

د طبقاتي کشمکش او لرې او برې نقشه اجمل بابا په خپل يو نظم "تپوس" کښې داسې راښکلے دے۔

ځهٔ اوکړم ځان راته انسان ښکاري
د انسانانو نه پښتنه کوم
اول د خلقي ماتېدو امن غوارم
بيا د غتانو نه پښتنه کوم
زما جهونګړه کښې چې ډيوه بله شي
ستاسو په زړونو دا تيارهٔ ولې شي
چې زهٔ د بار د لاندې ساه اخلمه
دا ستاسو اچولي تراوه ولې شي

که زهٔ د بدې ورځې هم خاندمه
تاسو په خپلو ښې غمژن ولې شئ

Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

چې زۀ د لوړې نه اپلاتې وايم
تاسو په ما باندې شکمن ولې شئ

چې مونږه اوړي سره ناست اووينئ
مړو په تاسو زلزله ولې شي
چې زمونږ خلو کښې ژبې اوګرځېږي
ستاسو انګړ کښې غلبله ولې شي

اول د خلې ماتېدو امن غوارم
بيا د غټانو نه پښتنه کوم

څۀ اوکړم ځان راته انسان ښکارېږي
د انسانانو نه پښتنه کوم[15]

او بيا هرکله چې د دغه زورورو ، سرمايه دار .، جاګير دارو او خانانو نوابانو زور زياتي او ظلم او جبر اويني نو خپل خاليق ته په فرياد شي او وائې چې:

د لويو لويو قدرتونو ربه
يو تمنا ده اوربدے شے که نۀ
ستا د سکني ماښامه لوړے
د چا د زړۀ لوړے ليدی شے که نۀ

ستا د جنت د نعمتونو نه ځار
زۀ درته اوبږے په جهان ژارم
ستا د دوزخ د لړمانو توبه

Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

زۀ درته دا لړمانان ژاړم

دلته د ګېډې دوزخ تش ګرځو
هلته شو ستا د دوزخونو خواراک
دلته د دغه قصابانو خوراک
هلته د هغه خامارانو خوراک

نه مو ځان تور کړو او نه سین پاتي شو
نه د دنیا شو نه د دین پاتي شو[16]

اجمل خټک په جدیدو شاعرانو کښې د لوړې پائې شاعر تېر شوے دے م په موضوعي اعتبار سره ئې د شاعرۍ موضوعي اړخ ډېر ارت بیرت دے، او په شاعرۍ کښې ئې د نورو موضوعاتو نه علاوه ترقي پسندي هم جوته لیدے شي. ځنګه چې د دوي د شاعرۍ انفرادي رنګ دے هم دغه ډول د دوي د ترقي پسندې شاعرۍ یو بیل انداز دے. او په دغه حواله سره د نورو ترقي پسندو شاعرانو سره په یو صف کښې ولاړ ښکاري. لکه د شاعرۍ یوې بلې نمونې ته ئې ځېر شئ چې:

"ملګرو تش په لوګېدو ونۀ شوه
ځئ چې لمبه شو دا خپل ځان اوسوزوو
د نوي کل د خسمانې دپاره
دا زوړ خوړلے ګلستان اوسوزوو"[17]

یو بل ځاے وائي:

"دا چې په هر کوټ کښې ئې لوږه پائي
د دې جونګړو نه به زړونه لوے کړو
دا چې په کښې سل رنځورۍ اوسېږي

Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

راځـــــئ چـــــې دا ســــــپېرۀ هډونـــــه تــــــوے کـــــړو"[18]

اجمل خټک ترقي پسندي د يو صنف پورې يا يو خاص عنصر پورې محدودنه نۀ ده ساتلې، بلکې په مختلفو حوالو سره ئې د ترقي پسندۍ اظهار کړے دے۔ د يو نظم دا برخه ئې هم د ترقي پسندۍ په زمره کښې راځي چې:

"اے د ژونديو ولولو زلميه!

راځه چې زړونه او لاسونه يو کړو

دغه د غېرو دېوال ونړوو

د خپلوليو دېوالونه يو کړو

ځان ته د ميني يو ښۀ کور جوړ کړو

د تس نس شوو نه يو ورور جوړ کړو"[19]

لنډه دا چې د اجمل خټک د شاعرۍ کوم موضوعات دي په دغه موضوعاتو کښې د نورو ډېرو موضوعاتو نه علاوه يوه موضوع ترقي پسندي هم ده۔ د دغه رقم رجحاناتو په وجه که يو پله د پښتو د ترقي پسندي شاعرۍ تله درنيږي نو ورسره د اجمل خټک د ادبي رغونې په لا ځلولو کښې هم لاس امداد کوي۔ او دے د نورو هم عصر شاعرانو نه په يو بېل او انفرادي مقام ودروي۔

Vol. 6 No.3 2023
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

# حوالې

[1]همېش خلیل "پښتانهٔ لیکوال" (دوېم ټوک)، یونورستي پبلشر پېښور کال ۲۰۱۱ ، مخ ۳۱۷
[2]حنیف خلیل "ائینې"، دانش کتاب خپرندویه ټولنه پېښور ، ۲۰۰۱ ء، مخ ۲۱۸
[3]هم دغه اثر ، مخ ۲۳۰
[4]حنیف خلیل " مخ په مخ " ، ۱۹۹۹ ء، مخ ۱۵۳
[5]حنیف خلیل، علم وفن، یونیورستي پبلشرز پېښور، ۲۰۲۲ء، مخونه ۳۱۷، ۳۱۸
[6]رضا، پروفېسر محمد افضل، ښاغلے اجمل او پښتو غزل مرکزي خوشحال ادبي و ثقافتي جرګه اکوړه خټک جون ۱۹۹۷ ء، مخونه ۱۶ ـ ۱۷
[7]خلیل ، حنیف " ائینې" دانش کتاب خپرندویه ټولنه پېښور کال ۲۰۰۱ ء، مخ ۲۳۸
[8]اجمل خټک، د غېرت چغه، یونورستي بک ایجنسي پېښور ، ۲۰۰۸ ء، مخ " ج"
[9]هم دغه اثر ، هم دغه مخ
[10]علي خېل، درمان " روښانه ستوري " رڼا پښتو ادبي ټولنه اله ډهنډ ډهېرۍ کال ۲۰۱۳ ء، مخ ۴۱
[11]اجمل خټک، د غېرت چغه، یونورستي بک ایجنسي پېښور ، ۲۰۰۸ ء، مخ ۵۱
[12]هم دغه اثر ، مخ ۵۲
[13]هم دغه اثر ، مخ ۵۲
[14]هم دغه اثر ، مخ ۵۳
[15]هم دغه اثر ، مخ
[16] هم دغه اثر ، مخ ۵۱ ـ ۵۲
[17] اجمل خټک، د اجمل خټک کلیات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، اکتوبر ۲۰۲۰ء، مخ ۳۵
[18]اجمل خټک، د غېرت چغه، یونورستي بک ایجنسي پېښور ، ۲۰۰۸ ء، مخ ۶۰
[19] هم دغهٔ اثر، مخ ۶۹